2 -JAN 2 0
Copy ____ 1959

کابل

پرله پسی گڼه (۴۶۴)

ښاغلی اجمل خټک

ای پښتنو!

ای پښتنو! ای لېو نو پښتنو! یه تس نس شو و پر ګنو پښتنو!

راځی ءپه کور کښی مر که شوو سره دسیالۍ وخت دی چه جر که شوو سره

دنیا بد لېږی ورته ځان بدل کړو دغه د ظلم زوړ جهان بدل کړو

سره د کلکو مټو شل ښکاري نن په خپل کاله کښی لکه غل ښکاري نن

دپلار نیکه حق مو پردی خوری رانه کېد ړي حق دزمری خوری رانه

داډ ك د کلو کلستان وطن مو دا په دنیا جنت نشان وطن مو

نن یو توته دجهنم دی راته خو شالی نه لری تش غم دی راته

دمېوو ډك دی اومو نږو ږی کرځو لویو سیندونو کښې ئې تږی کرځو

په خزا نوئی ښاماران پراته دی چېرته خانان چېرته پیران پراته دي

دغلو ډك دی مونږ نهر کرځو خپل کور مو شته او دربه در کرځو

په ګټه وته مو نائکان ماړه کړه کېدي مو تشی دوی کندوان ماړه کړه

پر دی ز مو نږ په وینو و پړسېدل ز مونږ په سر تر اسمان ور سېدل

مونږ غریبان پیاسه او نغن نه لرو دو لږي مرو ورو ستو کفن نه لرو

ورونو دا ځکه چه و یده پاتې یو و یده لا ښه وی مو نږه مړه پاتې یو

راځی ءچه وېښ شو اول ځان بدل کړو بیا دا دظلم زور جهان بدل کړو

نظام د مینې محبت جوړ کړ

کور د انسان دشرافت جوړ کړو

No. 464

۱۳۳۷ ش کال د سنبلی (۱۵) د ۱۳۷۸ ق کال د صفری (۲۱) د ۱۹۵۸ م کال د ستمبر ۶

۲۸ کال ۱۲ گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

د امتیاز خاوند : پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر : گل پاچا « الفت »

مسئول مدیر محمد حسن « کاکړ »

پته : کابل - نادر پښتون واټ دپل خشتی په مقابل:

د تیلفون لمبر (۲۱۲۹۱)

په دې ګڼه کښې

ګڼه	مضمون	لیکوالی	مخ
۱	دسنبلې نهمه ..	بنا غلی کاکړ	۱
۲	زخمی زړه	« الفت	۳
۳	رباعی	« حمزه	٦
٤	دپامیر ..	« خادم	۷
٥	شعر	« خیال کاکاخیل	۸
٦	استعمارته ..	« زمریالی	۹
۷	پښتون یودی	« مراد شینواری	۱۱
۸	دزړه آواز	« جلالی	۱۲
۹	وطن ته	« غنی	۱۳
۱۰	مونږ داغواړو	« سیال	۱٤
۱۱	دشاعر دعاء	« قندهاری رشاد	۱٦
۱۲	دپښتون سندره	« نیزی	۱۸
۱۳	دمحکوم ...	« دوست	۲۰
۱٤	دپښتونستان ...	« بختانی	۲۲
۱٥	زړا زړاده	« درمند	۲۳
۱	وطنه	« سیلاب	۲٤
۱۷	زه پښتون یم	« بینا	۲٥
۱۸	مات لاس	« سمسور	۲٦
۱۹	دپښتون غیرت	« شاکر شینواری	۲٦
۲۰	څه ولیکم ؟	« حافظ	۲۷
۲۱	زه پښتون یم	« ننګرهاری	۲۹
۲۲	دپښتنو ...	« محب	۳۱
۲۳	ځان ته ...	« غمخور	۳۲
۲٤	څه غواړم ؟	« خالص	۳٤
۲٥	ددوزخ ...	« جرار	۳٥
۲٦	ان ورځ	« لونګین	۳۷
۲۷	ای لویه خدایه ...	« جوهر	۳۸
۲۸	داتکل صحنه	« انمان	۳۹
۲۹	پښتنو په	« صفدر	٤۱
۳۰	دکتابو نو برخه	اداره	٤۲



بناغلی سردار محمد داؤد دافغانستان صدر اعظم دخان عبد الغفار خان سره
خبری اتری کوی .

د سنبلې د نهمې ورځې په یاد

هر ولس ځانله تاریخي ورځې لري یعنی په داسې ورځو کښې واسې خلکو د خپلو لویانو په لار ښوونې دویاړنې وړ کارونه کړی وی یا په دی ورځو کښې زېږیدلې وی یعنی ځان ځانۍ او قبیلوی حال ئې پرې ایښی وې سره متحد او یو شوی وی او ملی متحد شکل ئې غوره کړی وی - یا ئې د خپل زاړه وراسته او استعماری نظام ګلم ټول کړی وی او یو نوی په حال برابر د ژوندانه نظام ئې برابر کړی وی یعنی خپله ټولنه ئې بېرته له سره جوړه کړی او ګرد سره په زړه پورې یو نوی او جدید شکل ئې ور کړی وی او یا داچه د باندنی استعمار ئې رټلی وی او د نورو او پردیو له سلطی نه ئې ځان د تل د پاره خلاص کړی وی دا ټولو ته ملی ورځی وائې نو ځکه بختورې دی او زیات ارزښت ورته ور کول کېږی، په معاصر تاریخ کښې د ۱۷٤۷ کال دا کټوبر میاشت د افغان ولس د پاره ملی او بختوره ده په همدی میاشت کښې وچه د افغان ولس د ټولو کامولویان، مشران او لیډران د کندهار د شېر سرخ په کلی کښې ټول شول او په داسې حال کښې چه په نورو هېوادو نو کښې صفا مطلقیت او د کتاتوری وه دوی د دموکراسی او پښتنی جرګی له روحېی سره سم د ځان د پاره ستر مشر (پاچا) وټاکه پردی ئې له خپل ملک څخه وشړل او خپله لاندی شوی خاوره ئې بېرته آزاده کړه او یو ښه نظام اولویه امپراتوری ئې جوړه کړه نو ځکه دا ورځ د افغان ولس د پاره زیات اهمیت لری همدغسې د اتحاد شوروی ولسونو د پاره (۱۹۱۷) کال د نو امبر اوومه ستر تاریخی اهمیت لری دا ځکه چه په دی ورځ کښې دوی له یوی خوا له استعمار څخه ځان خلاص کړ او له بلې خوائې نوی نظام د ځان د پاره جوړ کړ، یا داچه د لوی هند د پاره ده ۱۹٤۷ کال دا ګست پنځلسمه ورځ ده په همدې ورځی کښې وچه د لوی هند وګړو د خارجی استعمار په مقابل کښې د خپلو پرله پسی مبارزو او جګړومزه ولیده او خپل له لاسه تللی آزادی او با یللی پت ئې بېرته خوندی کړ. په دې ډول هندوان سکان پنجابیان او همداسی نور خپلی آزادی ته ورسېدل او د ځان د پاره ئې د خپلی خوښې په زړه پوری نوی نظام جوړ کړ مګر په دوی کښې یوازی د پښتونستان ولس دی چه تر اوسه مم

خپل مقصد ته نه دی رسیدلی دوی خودمټ په زور له یوی بلا ځان خلاص کړ مګر خبر نه وو
چه په بلی بلا واوښتل دوی وو چه خارجی استعمار ته اړم شول او هغه ئی له ټول هند نه والیست
مګر اوس همدوې دی چه په بل استعمار اوښتی وی خودا باید وویل شی چه دپښتونستان
ولس بخپلی آزادۍ مین دی تر څو خپلی آزادی ته ونه رسیږی او له نورو ولسو نو سره
یو ځای په بین المللی میدان کښی خپله غاړه هسکه ونه وینی آرام به نه شی همدغه سبب دی
چه په دی ولس کښی کوښښ جاری دی مرکې او جرګی او سلامشوری پکښی روانې دی
یوه ډیره ستره جرګه یې د ۱۳۲۸ کال د سنبلې په نهمه کښی وشوه په دی جرګې کښی
د آزاد پښتونستان د بیلو بیلو کامولویان مشران او لیډران سره ټول شول او دائې فیصله
کړه چه دپښتونستان د جوړېدو د پاره تر څوئی ساه په مرۍ کښی وی کوښښ به کوی
دا جرګه د ۱۷۴۷ کال د شیر سرخ له جرګې سره زیات مشابهت لری نو ځکه ډاډه یو چه
اساسی نتیجه به ور کوی نتیجه به ځکه ور کوی چه پښتونستان د ټولو پښتنو د زړو ارزو ده
ولسې فطری او په قانون برابره تقاضاده همدغه سبب دی چه ټول پښتانه دلته دی که هلته
دننه دی که د باندی هر کال د دی تاریخی ورځی درناوې کوی پښتنو لیکوالو او شاعرانو
چه د روانې میاشتی په نهمه په کابل را دیو کښی کومه درنه او بی ساری مشاعره لرله
د همدی تاریخی فیصلی درناوی د پاره و که څوک غواړی چه پښتنی سو چه احساسا تو
باندی ځان پوه کړی نو هغه دی په دې مجلې کښې ولولی

(کاکړ)

افتتاحیه وینا

دادی اوس دپښتونستان دتاریخ ورځی په مناسبت دپښتنی لیکوالو مشاعره شروع کیږی. مونږ له کابل رادیو او ټولو هغو محترمو کسانو څخه چه په دی مشاعرې کښی ئې ګډون کړی دی، دزړه له کومی تشکر کوو. ددی مشاعرې یو خصوصیت داډی چه دپښتونستان لیکوالو او پوهانو لکه مولانا عبدالقادر دپېښور د پښتوا ګاډمی رئیس، ښاغلی فضل حق شیدا، ښاغلی امیرحمزه شنواری او نورو هم یکښې ګډون کړی دی.

ښاغلی الفت

زخمې زړه

زړه ئی مه بوله تور کاڼی د صحرا دی

په لیدو دزخمی زړه چه زخمی نشی

ګرانو ښاغلو! زه تاسو ته زخمې زړه وړاندې کوم ځکه چه له ماسره روغ زړه نشته.

زخمی زړه زما یو زوړ او پخوانی شعر دی چه شپاړس کاله پخوا په کابل مجله کښی خپور شو او هغه وخت ښاغلې مولانا عبدالقادر صاحب په نن پرون مجله کښې واخیست.

زه پوهیږم چه دشعر او ادب په نړۍ کښی جدید لذیذوی او په هر وخت کښی خلق نوې نغمه خوښوې مګر د دردمنو خلقو په نظر کښی زوړ درد او زړه همدردی بی قدره نه وی.

داشعر که څه قیمت لری هغه به داوی چه ددې وخت آنی اقتضاء نه دی پیدا کړی او ابن الوقت نه دی.

کوم ملی او اجتماعی احساس چه په دغه نظم کښی لیده شی دنن ورځې ماشوم نه دی او دعمر په لحاظ دبلوغ مرحلی نه رسیدلې دی.

زه دافکر او دغه احساس یوازی دځان نشم ګڼلی ځکه چه دا الهام له محیط او اجتماع څخه اخستل شویدی او دخلقو دفکر او دخیال تعبیر او تفسیر دی.

داشعر ټول ۱۹۵ بیته دی چه دلته ترینه داختصار دپاره (۴۰) بیته اخستل شوی او هغه دادی:

راشه واوره زما وروره — د زخمې زړګی آهونه

دازخمې زړه ستا له غمه — راشه و ګوره پښتونه

نور څه نشته په دی زړه کښی — واړه دی دا ستا غمونه

ته پوهیږی چه زه تا ته — لرم څو مره امیدونه

چه ته بیا کړی غیږه وازه استقبال دتېر شو کت

څو قدمه وړاندې واخلی خپل را تلونکی سعادت

څه به ښه وی څه به ښه وی — که تیر شوی دوران راشی
د پښتون بابا په لاس کښی — واك اختیار د خپل ځان راشی
بیا هماغه شپې او ورځی — د پښتو په جهان راشی
په هماغه زړو مینو — بیا زمونږه کاروان راشی

دا دعا په څو څو وارو د خپل زړه په کوه طور کښی
ما په نیمو شپو کښی کړی د پاك خدای په لوړ حضور کښی

په هر زړه کښی بېل بېل قسم — امیدونه او سرې وی
څوك د ښکلو ښو مخونو — امید وارد ننداری وی
د چا مال او دولت خوښ وی — په دنیائی ستر گی سری وی
چا د بل مقصد د پاره — سنجولی څه چاری وی

له هغو زړونو ځار یږه چه یکښی لوړه ارزو وی
څه چه ښه ورته ښکار یږی پخپل قام د ده پېرزووی

ښه خبر په دغه راز شه — ای زما د ستر گو توره
چه یوازې په دنیا کښې — ژوندون نه کېږی ای وروره
هر پیغام چه یو غږ اوری — بل ته هم رسی هر گوره
د یوازې ځان سودا ته — وباسه د زړه له کوره

ته ئې ناست هغې بېړۍ چه په کښی تمام پښتون دی
ستا هر څه ورسره گډدی که دې مرگ او که ژوندون دی

ته او دی دلته او هلته — په یوه ژبه گړېږیء
په یوه نامه هر چېرته — او په هر وخت کښې یادېږیء
د یوه پښتون په ښه نوم — سر تر سره ټول ناز یږیء
د دښمن او دوست نظر کښی — لکه یو وجود ښکار یږیء

چه پردولره یوه ښکاریء همدغه مودی یو والی
نوك اوری کله بېلېږی نشته تاسو کښی بېلوالی

غم مو یو ښادی یوه ده — په رگو کښی یوه وینه
زه او ته د یو مخ ستر گې — خلق مو بولی ښۍ او کینه
دواړه یو شانته غړېږو — مرو د یو وجود په مړینه

اختلاف د نظر نشته چه موجب د بېلتون شينه
سپين او تور د يوې ستر گې کله يو له بل بېلېږي
په بېل رنگ کله دوه ورونه يو له بله پر دی کېږي

راشيء اې پښتنو ورونو يو له بله به ځارېږو
د پښتون د ژوند دپاره به هر يو له سر تېر ېږو
خوشحالی به مو يوه وی په يوه غم به کړ ېږو
په نامه د پښتنو الی به مونږ واړه قربانېږو
يوه ورځ به داسې راشی چه پښتون واړه را ټول شی
سر تر سره پښتانه ټول لکه يو کور او کهول شی

دازخمی زړگی به روغ شی د غليم زړه به زخمی شی
دا ارماند به له زړه اوزی له غمونو به خالی شی
د الفت خواږه اشعار به پښتنو په خوله جاری شی
پښتنی دنيا به جوړه کور په کور به خوشحالی شی
څوك چه زړه لری هر گوره پکښی هيله اواسره ده
دا ارزو له ډېره وخته تر دې وخته را سره ده

رباعي

يو سوال درته کومه اې زلمو زلمو — ملت د پښتانه کښې مېړنو زلمو
دا غږ د مستقبل دی د حمزه په ژبه — ژوندی کړی خپل ادب خپله پښتو زلمو

* * *

چه پری نه وزي په کښته پښتنو، پښتو — کړیء جګه تر اسمانه مېړنو پښتو
کړیء سرداسی تارونه د ملیت درباب — چه هره پرده غږ کړیء چه پښتو پښتو

* * *

عږ د پښتو د پښتنو اورم — ژبه یوه شوه د زلمو اورم
وعده دې کلکه غوندی ښکاری آشنا — نن دې خبری په پښتو اورم
نن د آمو او دا تک تر مینځه — دی څه جرګې د غرور غو اورم
د غرونو بازیم کښته ته راځمه — جالونه ویړ دی د د ښنو اورم
ستاد ژړانه به نغمهٔ جوړه شی — شته تسلسل دې د سلګو اورم
د تصور نه می خلا صېږی کله — زه چه ځمبار دې د بڼو اورم
بیا چه یو ازی داسی را نه شی ته — غږ دې د زړه د د زېدو اورم
دا شنا یا ده جوړ په خود شومه زه — نن چه شرنګا د زولنو اورم
زلمیه باز نه شی ویل په منګل — دی بند و بست دی د کولو اورم
په مستقبل کښی دی د ېوې کړه بلی — حال کښی دی چغی د تېرو اورم

پسته تهذیب دی ازادی مخکښی ده
قول د حمزه دی مېړنو اورم

دپامیر دلوړې څوکې نه

چه مې قام سره راتول شي ماته دغه متاع را کړه

څه که زه ئې په قیمت کښې ترمې ترمې لکه گل شم

دوطن بڼ مې سمسور کړه دآ رزو په سرو گلانو

پروانشته که په خاور و لکه تخم و شیندل شم

څومره څومره زمانې شوې په گناه دحق غوښتلو

دظلمو نو الاجی کښې د گنی غوندی زبېښل شم

تېغ په سر به را بهر شم زه پو هېږ مه پښتون یم

د دانې غوندې په زوره که په ځمکه و منډل شم

دپښتون دبهار زېری که په خاورومی څوک و کا

سره گلونه شنه ځو مبك به دغاتولو دغندل شم

د تهذیب معلم زه و م چه مې و ښود و جهان ته

اوس دازه په تول جهان کښې بی تهذیبه وښو دل شم

بل یولیك مې په زړه نشته بی دقام له اعتلاء نه

په نا حقه له باطله په دې حق باندې کېږل شم

انا لحق به مې دو ینو هر یو څا څکی ند او کا

دمنصور غوندی سل ځله که په دارو ځړول شم

اباسیند په غاړه ناست و م په مستۍ بی راته ووې

زه به ځمه، ځمه، ځمه - که هر څو مره وتړل شم

دپامیر دپرلوړی څوکی نه مې ستر گی جهان څاری

سپین صبا دی را ختلی له مشرقه لاری لاری

لندی هلمند کښې اوس موجو نه طوفانو نه نشته
په سور غور کښې هنګامې شور وز و ګونه نشته
چناب راوی شول طوفانی وائی خيبر دو به وم
چه دايمل او خوشال خان ور ته بند و نه نشته
لمن کچکول ما دا نيو لی ده خيرات به غو ارم
و حدت ترون دپښتنو په سمه سوا ت به غوا رم
سو ر نغر ی دپښتو نخوا شه انګار يا تي نه دی
پس له ايمل او خوشال خان نه غمخوار پاتی نه دی
مير و يس اکبر دا حمد شاه په مز ار داژ ارم
په پښتنو کښې هغه ننګ و ا يثا ر پا تی نه دی
ياخو دخيال دقوم دژ وند بيا انګازی پورته شه
يا ددی هسی مهمل ځان بې جنا ز ې پور ته شه

پای

ښاغلی امین الله زمریالی

استعمار ته وایم

مه وایه للو وړو کی نه یم نه غو لېږ مه

مور نه ئی میره ئی په مطلب دی ښه پوهېږ مه

دا شپېلۍ د شپا نه نه ده دمار گیر ده

دا نغمه د خوشحالي نه ده د ویر ده

دادانه په دی حلقه کښی د تزویر ده

جال دا ستعمار دی غوړېدلی ور کشېږ مه

مه وا یه للو وړو کی نه یم نه غر لېږ مه

مور نه ئی میره ئی په مطلب دی ښه پوهېږ مه

ما ته وائي چه دا تا ته ښکلی کور دی

زه چه گورم ما ته کور نه دی دا گور دی

دا سور گل چه ما ته ښیي دا سورا ور دی

ډېر دی زه دو که کړم پس له دی نه دو که کېږ مه

مه وا یه للو وړو کی نه یم نه غو لېږ مه

مور نه ئی میره ئی په مطلب دی ښه پو هېږ مه

ما ته وایی ته پښتون ئی راڅخه جار شه

زه به پروت یم پرپا لنگ ته پهره دار شه

که خپل حق دی راڅخه وغوښت سر په دار شه

دا گمان دې پوچ دی زه پښتون نه غلامېږ مه

مه وایه للو وړو کی نه یم نه غو لېږ مه

مور نه ئی میره ئی په مطلب دې ښه پو هېږ مه

ما ته وا ئي دې د پا ره ته پیدا ئی

چه هر څو دې ر بړ و م ته باید لا ئی

که دی ستر گی کړی را پور ته تالا ئی

پوه شه زه نوی غرستا په دیکو کله خو ځېږ مه

مه وا یه للو وړو کی نه یم نه غو لېږ مه

مور نه ئی میره ئی په مطلب دې ښه پو هېږ مه

ته غوږ کښېږده د دنیا و افسانو ته

ابږخه ځیر شه رنګا رنګو تماشو ته

مه ګډېږه ته د نورو و سازو ته

تاغوندې زه نه یم خپل نامه ته قربانېږمه

مه وایه للوو ړو کی نه یم نه غولېږمه

مور نه ئی میره ئی په مطلب دی ښه پوهېږمه

ستا قوت تا جوړه کړی فیلخانه ده

تمیز نه کړی چه کعبه که بتخانه ده

خبردار دابابیل وړه دانه ده

زه دحق دپاره پر باطل باندې برېږمه

مه وایه للووړو کی نه یم نه غولېږمه

مور نه ئی میره ئی په مطلب دی ښه پوهېږمه

زه پښتون یم ځان به نه پرېږدم په مړو کښې

په خپل مټ به بیا حساب شم په ژوندو کښې

ماڅر ګند کړ دا مطلب تا ته پښتو کښې

تل چه زه رهبروم اوس به بل پسی نه درېږمه

مه وایه للو وړو کی نه یم نه غولېږمه

مور نه ئی میره ئی په مطلب دې ښه پوهېږمه

ای صیاده ! زه ګیدړ نه یم زمری یم

که ر اویښ شوم په کتلو ستا مرګی یم

ګمان مکړه زه شهباز چه ستا چرګی یم

کله به زه ښکار شم ستا و ښکار ته تیار یږمه

مه وایه للووړو کی نه یم نه غولېږمه

مور نه ئی میره ئی په مطلب دې ښه پوهېږمه

ونیسه هو سی ته خو له چه لری تو ره

دا ځای دی دزمرو لیری ځنی ښو ره

ځان دې په امان کړه ځغله ژرمه ګوره

ټول کړه دا زوړ دام دې زمریالی یم نه بندیږمه

مه وایه للوو ړو کی نه یم نه غولېږمه

مور نه ئی میره ئی په مطلب دې ښه پوهېږمه

ښاغلی مراد شینواری :

پښتون یو دی

ده مولوړه که ژوره ، که موسمه ده که غر دی
څوك روهی دی، که کوهی ، که څوك لر دی که څوك بر دی
دخیبر د ستر گو نور دی ، د میوند ځان و ځیگر دی
دخوشحال دزړه ټکور دی ، دا یمل د زړگی سر دی
یوه ژبه یوه وینه ، که په هر یوه پلو دی

پښتون یو دی پښتون یو دی پښتون یو دی پښتون یو دی

که مو ننگ دی که پښتوده ، که مو ویر دی که سندری
که درنی درنی حجری دی ، که درنی درنی ډبری
که تو غونه نغاری دی، که غازیان دی که لښکری
که مو خاوره دوطن ده ، که د پلار نیکه ککری
یوشملی مو دځلمو دی، یو دپیغلو مو پلو دی

پښتون یو دی پښتون یو دی پښتون یو دی پښتون یو دی

ټینگ په ننگ دپښتانه یو ، مونږ مومند که اپریدی یو
که وزیر مسعود شینواری ، که ختك که یو سفزی یو
دد ښنه په مخکښی یو یو ، که پخپلو کښی پری دی یو
تل مغول د زمانی ته ، ټینگ ولاړ سر په تلی یو
که زمونږ په ککرو کښی. ظالمانو کړی لو دی

پښتون یو دی پښتون یو دی پښتون یو دی پښتون یو دی

که څه پښی کړی کوتری، خومانشی تیر ایستلی
څوڅو واری دتیندك کړم ، بیائې نشی غور ځولی
په پردو پیکه لغمومی. زیاتی نشی ځنگولی
بس دې ډیر د گوډاگی کړم، نور می نشی گډولی
(پاتی په ۱۲ مخ کښی)

ښاغلی غلام جیلانی جلالی :

دزړه آواز

آشنا دما څخه شعر ونه غواړی — دآشنائی د بڼ گلو نه غواړی
ولی مې نه وینی دزړه داغونه — نغمه له مانه ار غنونه غواړی ؟
هغه رباب یم په شلیدلو تارو ، — چه دویر ژلو سوی زړونه غواړی
پخپل کا ږه واږه بی سره ژغا — په سړه سا تاو ده ږغونه غواړی
زړه چه ویرژلی شی آرام نه لری — د پغپوری جانان سازونه غواړی

زه د مایوس زړگی آواز ږغوم
دنیاز به دودشی دیار نازته وروړم

سندری نه لرم آهو نه دی دا — دبڼ گلان نه دی داغونه دی دا
حماسه نه ده پښتون نه تیر باسم — او نه د تو رو گزارو نه دی دا
نه دی کر کنډی ، ارتاویځی باتی — نه دی کاوړ نه تندرونه دی دا
د کنډو رنډو ، ما شو مانو ژړا — پکښی د اوښکو بارانو نه دی دا
د مظلو مانو غلبلی ږغوم — د یتیمانو فریادو نه دی دا

د غارت شو یو شهید انو وینی
دسویو زړونو ار مانو نه دی دا

(د ۱۱۵ مخ پاتی)

خپلی خپلی طائفی ته هر یو قام روان په دودی

پښتون یودی پښتون یودی پښتون یودی پښتون یودی

مونږه کله دی غوښتلی ، چه دچا په لار کښی خنډ شو
یا دبل دحق په لار کښی ، اوږده دغږ یږو رنډ شو

یا لوږی دز ور ورشو . په پردو جونگړو پنډ شو
که مونږ وایو خودا وایو ، چه په یو فکر راغونډ شو

نو په عقل ماشومانو ، پښتون څله درته بودی

پښتون یودی پښتون یودی پښتون یودی پښتون یودی

لمی خان عبدالغنی خان :

وطن ته

ای زما وطنه دلالونو خزانې زما

ستاهره دره کښې دی د تورو نښانې زما

زه یم ستا له خاورو ته زما له وینی جوړه کې

ته مې دابې او د بابا له وینی جوړه کې

ته مې دپښتو او د مستۍ رنګینی جوړه کې

ستا زړه کښې ویدې دی ټولې تللی زمانی زما

ای زما وطنه دلالونو خزانی زما

ستر ګی می لو ګی شه ستا د خاورو له ګورونو نه

عقل مې ایری شه ستا د پاره د فکرونو نه

ځار شمه قربان شم ستا له غرونو له سیندونو نه

ستا هره دره کښې دی د تورو نښانی زما

ای زما وطنه دلالونو خزانی زما

ستا عزت چه نه وی زه به نوم او عزت څه کړمه

ته چه خوار و زار یې زه به خوب او راحت څه کړمه

ستا سر چه وی ټیټ نو زه به شان او شوکت څه کړمه

مسته به دی خاوره کړم په وینی مستانی زما

ای زما وطنه دلالونو خزانی زما

یا به دی سیال کړمه وطنه د جهان

یا به ستا په پښو کښې توری خاوری کړمه ځان

زه به دړی وړی شم خو تا به کړم ودان

نریمه پښتون یم تا ته یادې افسانې زما

ای زما وطنه دلالونو خزانې زما

پاڼی می دوخت اړولی مادې یو مقام ګورم

کلک په یو ایمان او یو مقام زه دا خپل قام ګورم

(پاتی په ۱٤ مخ کښی)

مونږ د اغوا ړو

مونږ پښتانه خپل مستقل پښتونستان غواړو
په پښتونخوا کښې د پښتون وچت نشان غواړو

مسلمانان یو پښتانه بل ملیت نه منو دیر دوخلکو باداری سپکه ذلت نه منو
په پښتنو باندی د بل چا حکومت نه منو د استعمار او غلامۍ طوق لعنت نه منو

مونږه آزادیو پیدا شوی، آزادی زمونږ شعار دی
د حق په لار کښې قربانی د پښتون کار دی

مونږ له چنګیز او له تیمور سره جګړی کړی دی
د حق دپاره مو سکندر سره ربړی کړی دی

مونږه د حق په غاصبانو تل داری کړی دی
سر غوڅول مو د باطل تل په چړی کړی دی

مونږ د خیبر دره سره کړی غلیمانو باندی
په ځوځو واره د پښتون په دښمنانو باندی

مونږ د اسلام په لار کښې ډیر ډیر خدمتونه ـ کړی
مونږه په ډیرو بتخانو کښې ازانونه کړی

مونږ د توحید په لار کښې هر وخت جهادونه کړی
د هر باطل سره زمونږ زلمو جنګونه کړی

زمونږ تکبیر باندی مات شوی ډیر بتان دی
د حق په لار کښې قربان شوی موزلمیان دی

(۱۳۵ مخ پاته)

کله چه یو شوی دی نصرت عزت انعام کو رم

خدایه یو جومات کړی دازر کونه بتخانی زما
ای زما وطنه دلالو نو خزانی زما

ای پښتونه ځارشم ستا دستر کو له رنګونونه
ای خړ کی کله ماته ښکلیه له ګاونو ته

ځاردی له مست سره له درنو درنو خو یونرنه
ستا په تنګ تکور کښې دو بی واره ترانی زما
ای زما وطنه دلالو نو خزانی زما

مونږه داغونه په زړه ایښی داو رنګ دی
تل مغلوالی سره زمونږ زلمی په جنګ دی

توری وهلی پښتنو د قام په ننګ دی
غرونه رغونه ئی سره کړی په پر نګ دی

په زړه ښکل دی وصیتونه د روښان
د آزادۍ درس دی راکړی خوشحال خان

مونږ په دنیا کښی امن صلحه سلامت غواړو
د هر یو قام خاتمه سو چه خپل ملیت غواړو

د زور او ظلم خاتمه مونږ عدالت غواړو
په بندګانو کښی رښتیا انسانیت غواړو

هر یو منکر سره د انصاف به زمونږ پیکار وی
د عدالت په لار دی زمونږ سرونه زاروی

مونږه د ظلم نه نجات غواړو د قام دپاره
مجاهده د پښتنو ده د نظام دپاره

زمونږ جهاد خو دی د ظلم اختتام دپاره
مونږ قربانیږو به په حقه د اسلام په لاره

مونږ د خوارانو غریبانو حمایت کوو
د مظلومانو نجات غواړو جدیت کوو

مونږ د انصاف په لار ه ظالمان نه یو
زور راوتپری نکړو په چاجا بران نه یو

مونږ ه اصیل یو پښتانه غلامان نه یو
چه څوك به مونږه کړی محکوم دومره اسان نه یو

دچل فریب او استبداد واره بتان ماتوو
دحق په توره په لښکر مونږ دشیطان ماتوو

مونږ پښتانه په یوه فکر تو لیدل غواړو
و ږی او تږی دخپل قام مرید ل غواړو

دا لوخ لغړ نیستی وهلی پټید ل غواړو
په سر یتوب په دی دنیا کښی وسیدل غواړو

مونږ په دنیا کښی دخپل قام اعلی نظام جوړ وو
دژوند قانون په برابر مونږ داسلام جوړ وو

دشاعر دعا

که پا که پا که، څښتنه پا که — وس دفرعو نو. دمېر څۍ را که
چه پرې دسحر، طلسمو نه مات شی — د غه قلم می، هغه عصا که

* * *

جهل چه ډېر شی. قدرت چه زیات شی — بنده نمرود شی، خدای ئې منات شی
قلم می تبر، دا براهیم کړه — چه د بتانو، مغزی بې مات شی

* * *

دا مېند ځایه، د هیلو خدایه — زغ نه را خېژی، له هېڅ درایه
چه مو پرې رسی کاروان مزله ته — هغه نالې مې باسه له نایه

* * *

هغه نالې مې. له نایه باسه — چه خوب ئی لښتی د سوز له لاسه
چه ږدی سکرو تی ترتلو لاندې — او رو نه شیندی دزړو له پاسه

* * *

هسی اثر می ور کړه مضمون ته — چه قیامت شی دامړه ژوندون ته
تکې پرې باسې پر نا مېند یو — و یښې فتنې کا، صبرو سکون ته

* * *

پیدا په ژوند کښی یو تاب و تب کا — په غور ځنګو نو ذوق طلب کا
نظر ته ور کا. پراخی وعلو — دمرګی هڅه د ژوند سبب کا

* * *

چه و، دوبی ته. زړونه یاغی کړی — له بد بینیو، لېمه خالی کړی
چه و لیی کا ږی، د جدا ییو — لاسو ته هغه قوت روزی کړی

* * *

زړو نو ته ور کا. داخلاص کروهه — له سینو باسی د رغل و د روهه
آینې صیقل کړی له زنګ وخیرو — مغز و ته ور کړی د مینې پوهه

دخان عبدالغفارخان دهرکلی یوه منظره چه عاشق شاه (مومند) هم په کښې لیدل کیږی

چه لیری زړونه سره نژدې کا — له منځه پورته دغه پردې کا
گرمې هغه مې نغمو ته ور کړه — چه په رگو کښې وینې تو دې کا

* * *

بیرته را ځوانه زړه مستی کا — ور که د مینی دغه سستی کا
بیرته لبریز کا د عشق جامونه — د بیدرد یو خمار نیستی کا

* * *

چه سره بیلی نوك واورۍ کا — په یوه ځان کښې جوړی دویۍ کا
دا آسویلی مې ورته صر صر کړه — چه طوفانی ئې دعیش بیړۍ کا

* * *

بیوزلۍ گوری د کرم لورته — که اثر ور کړې دزړونو اورته
چه په مکوټ شی قفس او لومی — آه می لمبه کړه د صیاد کورته

ښاغلی حبیب الله «تېزی»

د پښتون سندره

اې بچیه د پښتو نه ! اې د نوی ژوند مضمو نه !

پاڅه جوړ نوی جهان کړه

دا آوازاو رېدل کیږی پښتو نخوا د لوړو غرو نه
د آمو او سند له څنډو د خیبر له سر د رو نه
هندو کش دلوړو څو کو دمیرویس رو ښان قبرو نه
د لرغو نی غور له تړو د ختکو هد یر و نه
د بخدی له زړو مینو د ځوان نسل له د ېرو نه
چاچه سرلاس کښې نیو لې د هغو له حنجر و نه
چه یا نوی جهان جوړ کړه یالاس واخله له ژوند و نه
ای بچیه د پښتو نه ! اې دنوی ژوند مضمو نه

پاڅه جوړ نوی جهان کړه

دا زړه د نیا د بل ده ته بنا نوې د نیا کړه
نوی رنګ ور لره ور کړه نوی خوند پکښې پیدا کړه
پدی چپ چوپ شا تنه بېدیا کښی ګډه بې ساری غوغا کړه
له درانه خوبه را پور ته لرو بریو خوابل خوا کړه
د کلو نو مړ اوی زړو نه په ګډا او په نڅا کړه
ژړا ورو له خندا ته له ژړا جوړه خندا کړه
ګوره وخت درنه تېریږی را وچت شه یو نه یو نه
اې بچیه د پښتو نه ! اې د نوی ژوند مضمو نه

پاڅه جوړ نوې جهان کړه

د هیبت چیغه کړه پور ته ټکان ور کړه خپل جهان ته
په دا نوې زمانه کښې دې زاړه پاتی انسان ته
که دې سر په سر ودارشې که دې غور ځوی زندان ته
خو ځوه بې ګروه ئی څوئې فکرشی خپل ځان ته
ور په غاړه کړه کلك پړی هسې ووا په آسمان ته
چه: یازما په زړه پېری کړه یادې نه پرېږ دم دوران ته
دا زمانن اراده ده په همدې کښې دی خوند و ته

اې بچیه د پښتو نه ! اې د نوی ژوند مضمونه

پاڅه جوړ نوی جهان کړه

طرفا نونه را وچت کړه چه را پورته کړی گردونه
زلزلې ترینه پیدا شی سره یو کړی سمې غرونه
په آسمان کې غورهار شی له بحرو جوړ شی موجونه
دازړه نړۍ بل مخ کړې کړی بدل واړه رنگونه
نه زوړ جام نه ساقی پر ېږدی نه زړی نغمې سازونه
نوی ساز نوی آواز شی نوی دور نوی جامونه
ساقی نوی هم شی نوی د ساقی ښکلا ، نازونه
اې بچیه د پښتو نه ! اې د نوی ژوند مضمونه!

پاڅه جوړ نوی جهان کړه

زاړه ژوند ته رخصت ور کړه نوی ژوند سره آشنا شه
چه یې نوی ژوند منلې د هغو سره پخلا شه
چه زاړه ژوند نه په تنگ دی د هغو د درد دوا شه
چه زوړ فکر پکښې گرځی هغه سر لره سزا شه
خپل تیاره جهان رڼا کړه یو ځل وسو ځه بر ېښنا شه
استعمار ته پنجه ور کړه د تازه فکر په خوا شه
ځان آزاد کړه ځان آزاد کړه کړه ټوک ټوک زاړه دامونه
اې بچیه د پښتو نه اې د نوی ژوند مضمونه

پاڅه جوړ نوی جهان کړه

ستا هډو نو ځنې جوړی د رگی د نگې بنگلې شوې
ستا دخولې په مړۍ باندې جوړی خلکو ته مېلی شوی
دشرابونه په ځای ډکی ستاله وینو نه پیالی شوې
ستا په برخه لو او لور شو دبل برخه سرې غلی شوې
ته بر بنډ او لوڅ لپړ ئې د لا لا نیغې شملی شوې
خلک ولا ړو تر منزله ته لا پاتی همدلې شوې
وزی تېزی اسیر پروت ئې نا خبر لا له ژوندونه
اې بچیه د پښتو نه اې د نوی ژوند مضمونه

ځانته جوړ نوی جهان کړه

ښاغلی دوست شینواری:

دمحکوم پښتون ژړا

پرولې سوز راته په نوو افسانو کښې را کړه!
پرونی سازراته په نوو ترانو کښې را کړه!
چه می دا ؤ ښکو هرقدم د لیلا یاد پسې ځی
دا امتیاز راته په ټولو لیونو کښې را کړه!
چه لکه شیمه په ژړا کړم دا بې درده ژوندون
داسی رمزو نه دخندا په بهانو کښې را کړه!
چه لمبة لکه پتنګ شم په انګار د مینی
داسی خمار دمحبت په پیمانو کښې را کړه!
یا می دا مړاوې غوټۍ ګل کړه که بهار می غواړی
یا می دا نیمه هستی توی کړه که قرار می غواړ
لږ خو څه سوز په دی دلسرده خورد او خواب کښې را کړه
لږ څه نهضت دژوندانه په آب و تاب کښې را کړه!
څو به ویده یم لکه واوره د جمود په غېږ کښې
دا باقی ژوند په های اوهوې او انقلاب کښې را کړه!
چه هریو داغ می په خاطروی نندا ره دبهار
لکه لاله داسی خندا پخپل شباب کښې را کړه
چه نه درنګ سره آشنا شم نه مین په صورت
داسی لوی فکر لوی نظر دزړه حجاب کښې را کړه!
یا قناعت دهما را کړه که آزاد دی خوښ یم
یا خو نظر د شاهین را کړه که صیاد دی خوښ یم
دا څه ژوندون دی چه تېریږی دذلت په غېږ کښې؟
دا څه ذلت دی چه لاپروت دی د غفلت په غېږ کښې؟
دو پنو رنګ دزړه داغل د ژوند تصویر شو راته
لکه لاله شهید شهید یم د فطرت په غېږ کښې

لکه ساحل په آرام نشوم طوفانو له شوره

که می هرڅو آرام غوښتلو دحیرت په غېږ کښی

نن او پرون می په ژړا ژړا رخصت شول رانه

سبا به ګورم لو غړن د کوم حسرت په غېږ کښی؟

مرور بخت پخلا کومه پخلا کیږی کله

بی صبره زړه که صبرو مه نو صبریږی کله

ژوندی می هیر شو لوی شوم هدیرو ته لاړم

لکه مجنون لیلا وی چیر ته زه میرو ته ژاړم

ملامت نه یم چه ژوند و کښی می څه ننګ و نه لید

ځکه د ننګ په لاره تللو مړو پلرو ته ژاړم

ګوندی په ګونګه ژبه ووائی کیسی د پرون

د پښتنو د قافلو زړو د ېرو ته ژاړم

ستر ګی می د کی شی له اوښکو چه خوشال مې شي یاد

د تاتری او دخیبر لویو درو ته ژاړمه

څو به داظلم داستم اودا ژوندون وی خدایه

څو به داغم اوداماتم اودا پښتون وی خدایه

یا می په مرګ ددی ژوندون له اضطرابه کړه خلاص

یا می په ژوند ددی مرګی له دراندو خوابه کړه خلاص

په نیمه ساه به درته څو وړی سلګی و همه

ما ددی اوږد ځنګدن او له عذابه کړه خلاص

کوم می تقصیر کومه ګناه کومه خطا ده زما

ما بی ګناه ددی ظالم خونی قصابه کړه خلاص

چه خپل ژوندون ما مظلوم ځوانیمرګی کښی ګڼی

ماله دی هسی شان مستر او له نوابه کړه خلاص

څو به په پښو کښی زولنی لاس کښی ځنځیروی زما

څو به د بل قلم لیکلی دا تقدیروی زما

ښاغلی بختانی:

د پښتونستان ژړا

«د حال په ژبه»

په تیغ د سیاست مې اندا مونه غوڅوی
رقیب وائی ملهم دی، خو پرې مالګی دوړوی

سلګۍ زما زده نه وه د دنیا په حادثاتو وهله مې ډغره و ېره نه وه له آفاتو
آزاده شوه سلګۍ چه اوس لا سونه مې تړی
بی توری خلاصیدل راته مشکل ؤ له غلیمه
اوس توره زنګ خوړلې ده چه زه ئی کړم دوه نیمه
یووالی چه دوه والی شو پښتو به شر موی
اوس تیر له خپل فطرت شوم په دی چه سیاست دی
غلیم موقع ته کوری چه د چل که د شدت دی
چلو نه چلوی یا تو پکونه چلوی
دنیا زما په کام وه رښتیا نی چه زه پښتون وم
افسوس چه نن سبازه مغه نه یم چه پرون وم
قصاب می په جامه کښی د شپنو حلالوی
پښتو پښتو اوس وایو خو په زړو کښی بل څه دی
پوه نه یو چه دا هم د استعمار و لمسیده دی
شراب د بې خودۍ جام د خودۍ کښی را کوی
روانی قافلې دی ته هغه دغه ته کوره پاڅیږه بسم الله کړه بختانیه ته هم ښوره
الله چه کوم قوم و غواړی زلمی ئی و یښوی

ښاغلی درد مند

ژړا، ژړاده

سپېنی بکورې چه دشپی په تا تره کښی ژاړی
نظر سپرغۍ شی تلوسې په ننداره کښی ژاړې
دچړاو څو که په کتو کښی شوه کېزه تیرانه
کېمور خولې شو سره رنګو نه په میره کښی ژاړی
باړه چه و کوری خیبر ته غزونی کوی
ځلمی ارمان پاس دافق په جزیره کښی ژاړی
ژړا ژړاده تړ می او ښکی کرېوا نو نه سکو نډی
بڅری الو زی له ستر کو طو فا نو نه سکو نډی

* * *

څلی ولاړ دی شمعی و کړې د پتنګ کیسی
بریښناهم و کړې آباسیند ته دغور ځنګ کیسی
دتا تر ې او دوانا او چکدرې په یا دو
دښمن ته و کړی نیمکښو نورو دجنګ کیسی
د ملکنډ او لیکنډی او دسو باڼ په نامه
مینې ساتلی دی په وینو کښې دننګ کیسی
په چار سده اوسر دریاب کښی ارادې هغه دی
دآزا دۍ ګټو د پاره عقید ې هغه دی

* * *

تالندو وژاړیء فکرو نه بو ګنیدلی ښکا ری
ځوان ارمانو نه په سینو کښی تخنیدلی ښکاری
آتك ته و کړې آبا سیند دلړ ز یدو خبر ې
چه تلوسی داو لسو نو پا ریدلې ښکاری
پښتو هغه ده پښتون نه دی بدل شوی کو ره
دورورولۍ مینی په زړو کښی خوځیدلې ښکاری
د پښتنو الی ولولې قو می غیر ت ښکلو ی
په زړه ءدردمند ءسکښتی کفن دشها د ت ښکلوی

ښاغلی سیلاب سایی

وطنه!

گرانه وطنه! له اغزودي شم قربان وطنه!

ننگ دمیرویس او احمدشاه پښتونستان وطنه!

وطنه جار دی له خیبر او تاتری نه شمه په سل کرته سپیلنی ستا دمیرې نه شمه

لوگی، لوگی ستا دغاټول له کرکرې نه شمه قربان قربان ستا دشپونکی دغره ناری نه شمه

په زر زر ځله له خپل ځانه راته گران وطنه!

ننگ دمیرویس او احمدشاه پښتونستان وطنه!

گرانه وطنه ستا اغزی ماته گلونه ښکاری گڼی پلوڅی دی رنگین عطری باغونه ښکاری

توری کېږدی راته دژوندازادرمزونه ښکاری نازدجونگو راته ځانگړی داستانونه ښکاری

دستر گو توره دزړه سر دخوشحالخان وطنه!

ننگ دمیرویس او احمدشاه پښتونستان وطنه!

ای دایمل، ای ددریا، ای دروښان وطنه ای دپښتون غازی اکبر، محمدجان خان وطنه!

ای دملالی په غیرت باندې ودان وطنه دچار سدی او مغلگی په شهید گران وطنه!

شم صدقه ستا له سپین زیری باچا خان وطنه!

ننگ دمیرویس او احمد شاه پښتونستان وطنه!

وطنه کاشکی شمه ستا له تورو غرونه لوگی ستا د پښی ابلو، سر سر تورو؛ لېونونه لوگی

ستا محبت کښې له شکېدلو گرېوانونه لوگی ستا د یتیم ستا د مظلوم لمدو لیمونه لوگی

ستا وږی تږی کونډې رنډی می ارمان وطنه

ننگ دمیرویس او احمد شاه پښتونستان وطنه

ښاغلی بینا

زه پښتون یم

زه بچی د تاتری یم — مزری د تورو غرو یم
په غیرت لکه باتوریم — زه شاهین د سر درویم
د ایشیا سینه کښی زړه یم — د تهذیب ښکلی زانګویم
زه غیرت د خیبر و نو — زه غیرت د تاتر ویم
قربانی کښی میړنی یم — زه د سرو وینو جیحون یم
زه پښتون یم زه پښتون یم ' زه پښتون یم ' زه پښتون یم

ما دی خپل د پاره — رود د وینو بیولی
ما مغل نه دی منلی — ما انګریز نه دی منلی
هر یو درد د قام د پاره — ما په نره دی زغملی
چه یو واریم وړاندی تللی — په ستنه نه یم راغلی
چه په وړاندی کړمه مخه — بیا په شا کله راستون یم
زه پښتون یم ' زه پښتون یم ' زه پښتون یم ' زه پښتون یم

د وطن دا خزانو نه — به بدل په پسر لو کړم
یا به ژوند پکښی پیدا کړم — یا به یی ډك له هډیرو کړم
راز رغون به سره ګلونه — په دې دشتو په مېړو کړم
سپینه ورځ به کړمه جوړه — اوس علاج به د تیارو کړم
ګوری نه په دا نګو درومم — د مقصد په لوری یون یم
زه پښتون یم ' زه پښتون یم ' زه پښتون یم ' زه پښتون یم

په کښرو چه راته کسی — تر ېنه وبه باسم کسی
پری لمبی به کړمه بنډی — هغه څوك چه لارې ونیسی
ده خودی می ډېره لوړه — پاس په تورو غرونو وسی
زه دوخت یوه نعره یم — چه به ټول جهان ته رسی
ای وطنه له پخوا — ته مې پاڼې زه مضمون یم
زه پښتون یم ' زه پښتون یم ' زه پښتون یم ' زه پښتون یم

ښاغلی سمسور ساپی

مات لاس

په سرو جامو نو کښې شراب راوړه دې بې طاقته زړه له تاب راوړه
قرار له زړه خوب مې له ستر ګوشو ورك زړه له قرار ستر ګو له خواب راوړه
د ژوندانه ر باب کښې سر نه وینم لاس ته مې بیا هغه مضراب راوړه
د آرزو ګانو ګل نسیم ته مسکی دې زوړ هوس له بیا شباب راوړه

هسې شراب چه جوړ سکون کړی لرې
د کام تېر نه مو بېلتون کړی لرې

سحر به تېر شی سرو ګلو نو سره ولې سرې وینې و چېدلی نه شی
د ماښام لړې به خورې ورې شی ولې د زړو تاو کمېدلی نه شی
مات لاس به روغ شی د ملهم په پټۍ خو مات زړګی کوشېرېدلی نه شی
ویل د هرڅه وی اسان د ضرورت له مخې ولې له کامه تېرېدل هېڅوك منلی نه شی

بوالهوسان دې زیاتی پرېږدی د هوس خبری
هغه وخت تېر دی چه به چا کړې د قفس خبری

د اباسین په غور زنګونو او موجونو سلام د تاتری او د خیبر په عظمتونو سلام
د شهیدانو غازیانو په سرو وینو سلام د خوار بېوزلو یتیمانو په آهونو سلام
د باچاخان او صمدخان په شو ګیرونو سلام د خوارو کونډو ارتینو په بدحالونو سلام
د پاك قرآن په بم ویشتلی پر هرونو سلام د ماشومانو په سلګیو او وېرونو سلام

سلام، سلام، دی په هغو وی چه خپل کام جوړ وی
ځان ته تېرېږی او تېر له دننګ بام جوړ وی

ښاغلی زیارت شاه شاکر شینواری

د پښتون غیرت

و کړه غرونی د پښتون غیرت ویښ شو را په خود شو د مجنون غیرت
ځان لره به لاره دیون جوړه کړی وس ئی د منزل شو په لټون غیرت
نن ورځ چه په غم کښې د سبا شو مه حال ته می پیغور شو د پرون غیرت
وېره په فطرت کښی د پښتون نشته څنګه به یې بیا نه شی راستون غیرت
پوه چه شو په دې چه په ما ظلم شی نه ئې کا د بل سره ګډون غیرت
وایمه په سپینه ورځ خپل حق غواړم نه کړی د پښتون چری شبخون غیرت
شپه که د ظلمونو لنډه نه شوله وبه کړی آخر هم سباوون غیرت

ښاغلی نصرالله حافظ

څه ولیکم؟

په تال د فکر کښې ځنګیږمه چه څه ولیکم
د خپل قلم پوری شرمیږمه چه څه ولیکم

یا هغه وخت او یا دا نن د ستا خواری پښتونه
په ځان ځانۍ کښې کړی د بل منه داری پښتونه

اختیار دستا دبل پلاس کښې شو او ترغوندی شوی
دبل په واك کښې له خپل ځان نه نا خبر غوندی شوی

چه به له ستانه وروسته تلل نن دی له مخه درومی
ستا په نیستۍ کښې ځان دیاره مرامونه مومی

باداری لاړه مزدوری تا ته در پاتی شوله
پخپل وطن کښې مجبوری تا ته در پاتی شوله

د لېونو په څېر غږیږمه چه څه ولیکم
د خپل قلم ځنی شرمیږمه چه څه ولیکم

* * *

د چا د لاسه دی قیدونه جیلخانې تیری کړی
پښتونه! تا په خپل حق څومره زولنې تیری کړی

په هغه وخت کښې می هم تا سره ژړا کړیده
په جیلخانو کښې می ستا یاده په رښتیا کړیده

تا چه میچنی کرزولی زه له ستا سره وم
نه خبر نه وی خو زه ناست د ستا د خوا سره وم

زه وم د لی اعتبار وکړه زړمی تا سره و
د ستا له غمه می ژوندون تول د سودا سره و

همزولو څه ښه به ښکاریږمه چه څه ولیکم
په تال د فکر کښې ځنګیږمه چه څه ولیکم

* * *

پښتو ستا سی د کار وان جرس بی شوره نه دی
ستا سی د کورنغری په هیڅ وخت کښې بی اوره نه دی

تاسی کښی وخت په وخت جلسی او جلوسونه کیږی
پښتنو ستاسی ښه ژوندون لره فکرونه کیږی
خونن سبا تاسی کښی ډیری بیدا ری و نیمه
دهر پښتون سره دفکر هوښیاری و نیمه
که خدای کوی وخت دخوا ریو دی تمام ښکاری
دی ابتداء کښی دی پښتونه نیك انجام ښکاری
دیر دی دی کار ته هو سیږمه چه څه ولیکم
په تال دفکر کښی ځنګیږمه چه څه ولیکم

☆ ☆ ☆

ښه دی چه ویښ شوی ء پښتنو وخت دخوبونو تللی
نور له دنیا نه کار او بار د غفلتونو تللی
په شا اوخوا کښی هر طرف دخپلواکی چغی دی
نن په نړی د ملتو د آزادی چغی دی
دخپلواکی ناوکی بل رنګ ته سینګار جوړ کړی
ښکلو زلمو ته ئی دسر و ینو بازار جوړ کړی
څوك چه دسر سودا کوی په دی بازار باندی
نو ګټه وکړه هغه چا په دغه کار باندی
دادی زه هم راپورته کیږمه چه څه ولیکم
په تال دفکر کښی ځنګیږمه چه څه ولیکم

☆ ☆ ☆

کړه په نړی و ړو قومونو آزادی حاصله
خپلو ځانو وطن ته ښکلی خپلواکی حاصله
دبل په لاس کښی ستا دغه لوی قوم ژوندون کړی څله؟
دبی پتی ژوند په دنیا باندی پښتون کړی څله؟
داستعمار دنیا کړه ورانه بل جهان جوړ کړه
چه ده آرزو دپښتنو پښتونستان جوړ کړه
په باغ اوبن دخپلواکی کښی ته ملیار شه خپله
هم دګل بوټی هم ګلونه د ګلزار شه خپله
په دی نعمت کله مړیږمه چه څه ولیکم
په تال دفکر کښی ځنګیږمه چه څه ولیکم

ښاغلی م ننګرهاری

زه پښتون یم

دحیات نه تر مما نه ابتدا یم په تعبیر کښې دپرون می خپل نن ستایم
یو موجود یم تحول نه بې پروایم یو مفهوم یم بې ربطۍ کښې تل ادایم
سرجنګی مې خاصیت په هر ډګرده
بې پرواچه یا په خیرده یا په شرده

مادی خپل همېش په خپل توپك و پشتلی کوم یو مشر مانه ګورته روغ زړه تللی
ځان غورزومه له ګرنګه خند بدلی خپل دبل خندا دپاره ژړ و لی
زه دبل درا نده بار ونه ډېرښه وړی شم
خوخپل ځان لره نه تلی نه خو ځېدی شم

دطوفان سره غویمنډ ته څېرمه کېږم تل د خلکو نیمګړ تیا ته پیوند ېږم
چه دورور مقتل کښې یش شم نو تیر ېږم خو دبل دپاره جنګ کښې ډېر تو دېږم
هیوا دونه می په وینو تل ګټلی
خو پو هېږې؟ بیا مې بل نه دی بښلی

جوار ګر یم دهستیو دا و کومه په دې پو، یم چه با یلل به هم ځغممه
دهر چا دپاره کور په صحرا زدمه په هر کار کښې سر په تیږه جنګو مه
دروازې می دزړه بېرته دی هرچا ته
دژوندون اسرار مې تیت شول هرې خوا ته

دشمشا دغوندې دغره په سراوسېږم د آسمان په بارا نو نوخړ و بېږم
کله زه په شفقت د چا خبر ېږم خوچه هرچېرې اور بل شی پرې سوځېږم
ځانله ځا له یم په برخوو ېشل شوی
په هر لور هرې کمۍ له رېبل شوی

دپردی په یوستر ګك آسان غولېږم اشارت باندې ئې سرو لمبو ته او ېږم
خودخپلو په پله تګ باندې شرمېږم د خبرې په منلو ئې کچه کېږم
چه اندام می غوڅوې د هغه مل یم
زه همیش دخپل وطن اودقام عل یم

ماځان خپله دحیات په مخ پېغور کړ ما په خپله خپل تقدیر واړه نسکور کړ
ماخپل کور له ناپوهۍ پخپله ګور کړ ما د خپلو بدو نوم پخپله خور کړ

ما دښمن له توره ور کړ ډال مې کېښود
پخپل لاس مې په رمه کښې لېوه پرېښود

ملامته همدا زه پښتون بدبخت یم دخوښۍ دویش په باب تېر شوی وخت یم
دهېڅ شی دپیوند نه دی هغه رخت یم ګر ېدی چه نشی زه هغه خار ښت یم

زه پخپله ددې خپل ژوند خاتمه یم
دپېر یا نود دېوا نو افسانه یم

اوس به ولې په یو مخ وی وېر ژړلی پخپل ځان پوری که ماند وی خندلی
کاروانو نه د متصد جلب نیولی دخپل سر د ښمن ته شل ځل ما بښلی

دا تو دې او به چه ماخولی کښې نیولی
کو یا خولی ته مې خپل لاس دی اړولی

اوس پخپلو کرد و ماله ژړا راغله ولې څه فائده مرۍ له مې سا راغله
چه کاله له دجنګو نو غوغا راغله نو داس تیار و لو سو دا راغله

زا رله هسې لا علاجې بد بختۍ نه
چه په ستر ګو مې ساو ځی له سختۍ نه

کاشکی ای روستیه عقله چه پخوا وای یا پرون مې دنن غوندې تمنا وای
کاشکی دا خپل اندامو نه خوز ما وای او دا خپل رجو دمې یو له بل پخلا وای

یا فنا وای اوس چه نه وای دا شور و نه
یا مې نه را تلای دماغ ته نور فکر ر نه

یا کر کجن په خصلت نه وای له قدیمه د نسیم غوندې و ر تلی په هره سیمه
یا وی رحم له طرفه د رحمیه نه عاصی وی نه خبری له جحیمه

نه ارمان وای نه ېې دا سوی در دو ته
یا غو تۍ مې د آرزو وی زېړ ګلو نه

یا مې خوب دماضی هو مره رنګین نه وای یا مې اوس مسئولیت هم سنګین نه وای
یا احساس دخودۍ دومره تېز بین نه وای یا خو تر یو دو اقعاتو جبین نه وای

یا له ستې او له ختې پښتون نه وای
یا مې اوس سپینې تنا کې لړمرن نه وای

ښاغلی عبد الکریم محب

دپښتون ماحول

پسرلو نه انتظار کښی لاز مونږه زمانی دی
او سېلی مولا په خوله کښی سند ریزې ترانې دی
دا تک مستو څپو کښی دسپین غره په خاموشیء کښی
دخیبر په تړو تړو مولا پاتی نښانې دی
دخوشال ورستو هډو کښی لا احساس دانقلاب شته
د مغلو په قبرو کښی لا دو ېرې اضطراب شته
بزم اورزم خو لا نه وو دمطربو آهنګ نه و
شمع نه وه ژړېدلی په محفل کښی پتنګ نه و
بوساده غوندی ژوندون ودخوښۍ ښکلی دنیا وه
غوټۍ نه وه غوړېدلی دبلبلو غورزنګ نه و
هلته هم پښتون پښتون وپه زابل او په پکتیا کښی
پښتنواله وه پښتو وه په دې توله پښتو خوا کښی
دمشرق څیری ګریوان کښی دافق سرو کنارو کښی
مد و جزر د قلزم کښی د سیلیو غابلو کښی
نو و نوو نندارو کښی پیغامو نو دسبا کښی
دسپوږمۍ په اشارو کښی شوخوشوخو پلوشو کښی
دی پرېشانه زندګۍ کښی پیغامو نه دپښتون و
ټول زمونږه مستقبل ته دعوتونه دژوندون و
داحمد دتاخت محشر کښی دختکو په هرلام کښی
دسوریانو یرغلو کښی دخوشال په هر پیغام کښی
دنګو دنګو لوړو غرو کښی دغوښکلو سردرو کښی
دحمید خوږ و نغمو کښی درحمان په هر کلام کښی
پښتنی جذبی پرتی وی سم اوغر دپښتونخوا کښی
جوړه کړی زلزله وه دنړۍ په هره خوا کښی

(پاتی په ۳۳ مخ کښی)

ښاغلی عبدالله غمخور

ځانته پښتون مه وایه

دلیلی سیال نه شوې ځانته مجنون مه وایه
خپله نامه کړه بدل ځانته پښتون مه وایه

د معشوقو پړونی — عاشقان نه خرڅوی
د پلار نیکه هډوکی — فرزندان نه خرڅوی
دننګ غیرت خاوندان — قام و ځان نه خرڅوی
چه دی پښتون په رښتیا — دین ایمان نه خرڅوی

په لباسی مینتوب ځان ته مجنون مه وایه
چه ننګ غیرت نلرې ځانته پښتون مه وایه

پښتونولی دې ولی — پښتونه! هېره کړله
په سروجوړو کښې ناسته — درخو دې هېره کړله
دمور د پاکې غېږې — للو دې هېره کړله
دقام عزت او شرف — ابرو دې هېره کړله

تېرشه له دې خبرې ځانته مجنون مه وایه
که خوادې نه بدیږی ځانته پښتون مه وایه

چه دلیلی د څڼې — داور بل ګل نه شې
د آزادۍ په شمع — سوی جلبل نه شې
د قام د خوږ وزړونو — دارو درمل نه شې
د بېګ نه ؤ جدا — د خپلو خپل نه شې

زلمیه قیس نه یې ځانته مجنون مه وایه
مه اخله نوم د پښتو ځانته پښتون مه وایه

چه داو د سرونه کړې — د خپل عزت د پاره
چه سره لمبه نه شې ټول — د ننګ غیرت د پاره



ښاغلی عبدالله غمخور

ښاغلی دوست شینواری

ښاغلی محمد نادرایوبی د سیاسی
نظریاتو د کتاب لیکونکی

ښاغلی سیلاب ساپی

ښاغلی محمد علی لو نگین

د نورو ښاغلو عکسونه لاس ته را نغلل

بېړه وانه خلې دقام — شان وشوکت دپاره
لوکی لوکی نه کړې ځان — ملی وحدت دپاره

اې پخپل ځان مینه ځان ته مجنون مه وایه
رښتیا رښتیا به وایو خان ته پښتون مه وایه

غلام د طمعې اسرې — پښتون کنلی نه شی
دبل دلاندې ژوندون — ژوندون کنلی نه شی

چه په قام نه وی مین — مجنون کنلی نه شی
بی ابا سینده جیحون — جیحون کنلی نه شی

چه لیلی خپله نه کړی ځانته مجنون مه وایه
چه آزادی وانه خلی ځانته پښتون مه وایه

یا کړه نامه بدله — یا سر نامه کړه نوې
که په لیلې مین یې — دا هنګامه کړه نوې
د خپل تقدیر دپاره — خپله خامه کړه نوې
د نوی ژوند په خاطر — زړه جامه کړه نوې

په بې عمله مینه ځان ته مجنون مه وایه
چه پت پاللی نشې ځان ته پښتون مه وایه

(د ۳۱۵ مخ پاته)

ګرمې ګرمې هنګامې وی دی سړو سړور ګو کښې
پیشګویی دنوی ژوند وه پټو پټو الهامو کښې

دغیرت مسابقې وې مېړنی زمونږ ژوندون و
دملی وحدت قوت و لر و بر و پښتنو کښې

زلزله به شوه نړۍ کښې دپښتون دتوری شرنګ نه
قربان شری ډېر سرونه دپښتو له نام او ننګ نه

چه حساس یې پارولی د (محب) دزړه ناري دی
چه و یجاړ دغلیم کور کړی زما سوې اندېښنی دی

خیر دی خیر دی که می اوښکی بوګنېدلی غوندی راغلې
استقبال یې هر پښتون کړی دا دسوی زړه قطری دی

دزار واو ننوا تو ځولۍ واچوه خپل قام ته
دپښتون تېر محبه ځیر شه خپل ماضی ایام ته

ښاغلی محمد یونس «خالص»

دیوه پښتونستانی آواز او آرزو

څه غواړم؟

وم بې په نومو کښې اخستی نشم بیر یږمه
خدایه! ته خوپوه یې چه آرزومی څه ده څه غواړم

څوك را خبر نشی دخپل ځان سره بڼیګیږمه
هغه چه یې نور خلك غوښتی شی هغه زه غواړم

ماته مې کاسه شوه په شرابو مسته مځکه شوه
خوار شې ای کلاله! له دی ماتو کنډو لو سره

زه لا خراب نه وم چه خړو به هلته مځکه شوه
وچلی مې و دا غیء له د اهسی قسمتو سره

هله ساقی زرشه شراب را وړه ګنی لو یږمه
څوك را خبر نشی د خپل ځان سره بڼیګیږمه

تیر کړه داخزان چه د ګلو نو سره غنچه غواړم
خدایه! ته خوپوه ئې چه آرزومی څه ده څه غواړم؟

بوی راځې دعطرو خوچه ونیم تو ری خاوری دی
ښائی ددی خاورو لاندې سور چمن د ګلو وی

وخت دپسرلی دی خوهر ځای کښی یخې واوری دی
ورك به حرارت دلته له لاسه دمغلو وی

وایم مغلوا له، د مطلب څخه تیر یږمه
نوم ئی په نومو کښی اخستی نشم بیر یږمه

ظلم او تعدی او دبل حق اخستل نه غواړم
هغه چه ئی نور خلك غوښتی شی، هغه زه غواړم

ژبی لاندی وایمه ظالمه! ظلم بس که نور
څو به دا ظلمو نه ستاز مونږه به کورو نه وې؟

وګټه! بادر شه، خپل پنګه یو په لس که نور
څو به دی بل کړی، داز مونږ په سر داورونه وی؟

(پاتی په ۳۶ مخ کښی)

ښاغلی غلام رحمن جرار

د دوزخ په څنډه ایښی ستا جنت پښتونستان دی

د خبرو په طغیان کښی مقصد لاړ هدف لاړ
په خوله وایم هلیء زرشیء او بوډ وب کړ صدف لاړ
د سرو ېره را سره ده عزت لاړ شرف لاړ
که خبری زرجړ او شی سره لمبه د شعر کورشی
بې عمل ته یو کفن دی دوهم و گوریء چه گورشی

که له اوره مې زړه ډك وی کوم ئی دود کوم ئی اثر دی
څوك ئی وسو په لمبو کښې کوم ئی تاو کوم ئی شرر دی
هسی ډول در سالی یم تش او آز ځما خطر دی
څه چه وائی هغه کاندی قانون ایښی ننگیالودی
داسو گټد ئی سره کړی د سرو وینو په پیالودی

چه پخپله خوله دنیا ته اصل ټکی په حجاب شی
چه دا څوك دی او څه غواړی نوشته تری یو کتاب شی
په دا خپلو نوشتو ئی دلوی لاسه کار خراب شی
د هغه چاره را ښیه د خبرو دیگ ئې جوش شی
که همدغه ئې پرده ده چه خوله ونیسی خاموش شی

دغو ټی په څېر بهر شه پټه خو له له خا رو خسه
لکه مړ طوطی راؤ زه د ښکاری له تنگ قفسه
قافله بوزه سار وا نه خپل پړ او ته بې جرسه
زه بی شوره سمندر ته غلی غلی ابا سین شه
یا په شور او په غوغا کښی صاعقه زیر زمین شه

دوا ده سندری پرېږده د بیمارو په استان کښی
د سبا په طمع ناست بی ته په هسی شبستان کښې

چه نه ځمکه هدایت کړی نه یوستوری په آسمان کښی

اقتدا په تحری ده چه کعبه شی له چاور که

چاره نشته بی له فکره دخپل فکر چاره وکه

دحساب کتاب دپاره کفن څیرې کړه خاموشه

خپل کتاب ته نظرو کړه په کښې څه دی سرفروشه

جنتي که دوزخي ئې زقوم خورئی که می نوشه

ولی ته ورځی جنت ته په سره اور کښې دې گذران دی

ددوزخ په څنډه ایښی ستا جنت پښتو نستان دی

(۳۴۵مخ پاته)

ته لری موتری اوزه لوڅی پیښی گرزیږمه

څوك راخبر نشی دخپل ځان سره بنگیږمه

خر، غویه خو نه یم چه به ستا څخه واښه غواړم

خدایه! ته خوپوه ئی، چه آرزومی څه ده څه غواړم؟

ستا دقصر رنگ ځما دپلار درگو وینی دی

ماته ښه معلومه قربانی دپلار نیگه شوله

هر سړی پوهیږی چه غواتو ره پیړ بی سپینی دی

سره او سپین ئی ستاشوه او ځما بسرخه سکه شوله

خو له ښور وی نشم او که نه خو ښه پوهیږمه

نوم ئی په نومو کښی اخستلی نشم بیریږمه

نن وی که سبا آخر به حق دپلار نیگه غواړم

هغه چه ئی نور خلك غوښتی شی هغه زه غواړم

وخت د آزادۍ دی نور منلی اسارت نشم

ته په کوم منطق باندې بادار، اوزه غلام یمه؟؟

نو ره می توبه ده بیا به ستا په اسارت نشم

تل به ته آغا اوزه ولاړ به لاس په نام یمه ؟؟

لاس تر لاسه ور وو په ورو رۍ ژوند ته هوسیږمه

څوك را خبر نه شی دخپل ځان بنگیږمه

زه خالصه اوروره د دی ظلم ور کیده غواړم

خدایه! ته خوپوه ئی چه آرزومی څه ده څه غواړم

نن ورځ

بد له نشوه دآ روز و تلوسه — را ته پیدا شوه دلیدو تلوسه
ماپښتنوستر گو نه خواست کړې وو — را که ژوندی دسوز یدو تلوسه
چه دجانان رخسار پرې سوروونیم — و ینی می کړی دبهېدو تلوسه

دلری بـرې پښتو نخوا پښتنو
درنه کـومه التـجا پښتـنو

پښتو ژوندی شوله پښتون ورك شو — په تېراوپاتې کښې ژوندون ورك شو
مینه تراوسه دلیلی ژوندی ده — خوپه مینو کښې مجنون ورك شو
اوس می کوټلی ارزو گانی ژاړی — کاش که له مینځه ئې ملتون ورك شو

که ځما ژوند دچا غلام راځی
نه دې راځی که ناتمام راځی

که مو دپیغلو سره شپی خوښې وی — که مو د زلفو سلسلې خوښی وی
که دپښتون په نامه ژوند غواړی — یامودخپل وطن دېرې خوښی وی
که چیری مینه در سره وی دقام — یامو پښتون له پښتنې خوښې وی

نن دیو والی او ور وری ورځ ده
سره راغونډ شی دخپلوی ورځ ده

دا د شهید دوینو یاد دی نن — یا ژوندا نه ایښی بنیاد دی نن
یائې ډولی شیرینه کورته راوړه — یاپه سر ووینو کښې فرهاد دی نن
چه لمبیدلی دی دځان وینو کښی — بیا د هغو ځلمیانـو بنیاددی نن

هم دآرزوهم دارمان ورځ ده
هم دخوښی هم د خپگان ورځ ده

بې پته ژوند دی شئی په ځیر پښتنو — ورته پیدا کړی څه تدبیر پښتنو
پښتنه مینه په سیالی کیدی شی — نه په ډېر مال اوپه جاگیر پښتنو
که دی ژوندون نو آز ادی ده دقام — د اتقاضاده د ضمیر پښتنو

خال می د سرو وینو رنگین خوښ دی
یا می په پت کښی لو نگین خوښ دی

ښاغلي جوهر بهسودوال

ای لویه خدایه نو کله به شی

وچ به زما دالوند گریوان کله شی
غمز ده زړه به می خندان کله شی!!!

ازآدبه گران پښتونستان کله شی
ترسر به داملي ارمان کله شی !!!

دچهارسدی یتیمه خدای دی لوی که
دی به با با پسی روان کله شی

دانگی سری دآرزو گانو غوتی
دابه تازه تازه گلان کله شی

حال پریشان، ماضی خپه تللی دی
نو مضارع به موخندان کله شی

ته چه تقدیر ته لاس ترزني کښینی
دتدبیر تا سره تو ان کله شي

ته چه جره او کونډ ژوندون خوښوی
کور به دی ووایه ودان کله شی

مظلوم به څووی دظالم منګل کښی
داطلسمات به خدایه وران کله شی

ای د دنیا ر به د مځکی له مخ
فنااو ورك به ظالمان کله شي

تر نن چلیبز ی چنګیزی چالو نه
اصلاح به خدا یه ستاانسان کله شی

خوښ به شي کله احمدشاه ازشیرشاه
خوشحال به گور کښی خوشحال خان کله شی

ډیر انتظار نه می شوی ستر گی ستړی
گډ به زلمی بیا په میدان کله شی

داستعمار رنځوران جوړ شول تمام
طبیبه زما دارو درمان کله شی؟

ځنځیر غوراب دآزادی به گناه
هغه را خلاص به له زندان کله شی

جوهره خدای دی په مو نږ رحم و کړي
په کراری به ز مونږ جهان کله شی .

ښاغلی محمد عالم اتمان

د اټکل صحنه

گنگو سی توري شوخړي ، شور ها هامی تر غوږ کېږي
سورانو نه دی غورځی دی ، لو غوغا مې ترغوږ کېږي
بل شرنگی د سپینو تورو ، او خر پامې تر غوږ کېږي
اله گوله انقلاب دی ، لو بلوا مې تر غوږ کېږي
غر غړی دي د تو پو نو ، او غو را مې تر غوږ کېږي
تور غومبر د الو تکو ، او غو ما مې تر غوږ کېږي
شیلکو نه د تو پکو ، او ټکا می تر غوږ کېږي
گر گرې د ما شینگڼو ، او ډزامې تر غوږ کېږي
د گولیو شغا او رم ، او شڼا مې ترغوږ کېږي
دو یشتلو ز گیر و ی اورم ، واو بلا مې تر غوږ کېږي
طوفا نو نه دسرو وینو ، اوشړپا مې تر غوږ کېږي
انگولا دبورو ورارو ، او ژړا مې ترغوږ کېږي
نه پوهېږم چه داچېری ، او په کوم وطن یرغل دی
، استعمارلاس غزولی ، او که بل داسې کوم چل دی
دا به گوره ! استعمار وي ، یا چپا و په افریقا کښې
یا تړاك د یهودا نو ، د عربو په دنیا کښې
یا به تندر د اتوم وی ، د جاپان هیرو شیما کښې
یا به اخو ډب جگړې وی ، لرې برې په کوریا کښې
یا تېرې دسکندر دی ، کړی نیو کې په آسیا کښې
یا داړه ده دافشارو ، لوټ ماری کا په ایشیا کښې
یا چنگیز بېرلو اخیستې ، په خوارزم یا په خیوا کښې
یا یرغل د هلاکو دی ، د عربو په بید یا کښې
یا یزید تو یو ي و ینی . په صحنه د کربلا کښې
یا مغل داړه ماري کا ، داټك په شاو خوا کښې

یا ډیورند دی کرښې باسی، پاس په سمه پښتونخوا کښې
یا نا تار په چارسده دی، کوز په لره پښتونخوا کښې
یا لښکرې دروښان دی، چه تو لیږی په پکنیا کښې
یا ماسل یا دریا خان دی. په خیبر یا په تیرا کښې
یا خوشال توره کیښلی، کوم اورنګ یې ترمخ کړی
یا ایمل په تاتره کښې، کوم پرنګ ئې ترمخ کړی
یا به ګوره! کوم پښتون وی، چیغولې ئې مغل دی
یا میر ویس په خپله خاوره، پرزولی وپره غل دی
یا ملاله ده غورځی کا، یا کوم بل پښتون اتل دی
یا ایوب دی په میوند کښې، په دښمنو ئې یرغل دی
یا غازی دی چه دوکی کا. اوختلی په مور چل دی
یا رنجك دی سره لمبه کا یا «پالك» په سر اوربل دی
یا اکبر په بالې سار کښې، غزولی کوم دغل دی
یا سلګۍ دمکناتن شوی، سایې خیژی په کابل دی
یا په ځان لیډی سیل ژاړی، لاس ئې پورې په کور بل دی
یا برایډن دی زړه ئې چوی، اودربې ئې دکوګل دی
یا انګلیس له پښتونخوا نه کډه واخیسته په زغل دی
یا کوم پلان داستعمار شو، شوکې پوکې حال ئې بل دی
یا «کانلې» زارۍ جیګۍ کا، دلې پاته یرغمل دی
یا چلې دچل په دام کښې، کېوتلی اودور بل دی
یا خوپرې دیوټ لومه، پښتانه دی آزاد شوی
یا «انمان» دی خوشالی کا. غلیمان ئې برباد شوی

ښاغلی محمد صفدر

پښتنو په اتفاق شیء

ټول په اتفاق شیء پرېږدی دغه ځان ځانۍ نورې
هېری واړه تېری د ښمنۍ کړیء پخوانۍ نورې
و غور ځوی ء شاته تر بګنۍ او پریشانۍ نورې
ټینګې وعدې وکړی په سوچه مسلمانۍ نورې
لاس دوروری ور کړی ء په رښتنی یو له بل سره
غم او ښادی ګالیء په شریکه واړه تل سره
یو زړه یوه خوله شیء که رښتنی حریت غواړیء
تل که په نړی کښی آرام ژوند موجودیت غواړیء
بېل که د اغیارو څخه خپل مرکزیت غواړیء
یو ځای دا ذری ذری وجود او ملیت غواړیء
ټینګ په پښتونواله شجاعت اوورورولۍ اوسیء
بیاد د ښمنانو په سرتندر او ږلۍ اوسیء
کله بې وحد ته څوک مطلب ته رسیدلی شی
کله بی زحمته څوک معراج ته ورختلی شی
کله قومی ژوند بی اتفاقه څوک لیدلی شی
کله بې دوا د ناسور زخم رغېدلی شی
دغه مشکلات دارو درمل پښتونولی غواړی
ټینګی ارادې قوې عزمونه ورورولی غواړی
ړاشیء سره یو شیء واړه اې د پښتونخوازلمو
ای د پښتنې ملک اوسیدونکو هرې خوازلمو
ودروی ء بیرغ صف او قطار کښې د ایشیا زلمو
ژوند به مو هله وی چه قایم پښتونستان شی
خپله خپلواکی مودنړۍ په مخ اعلان شی

دپښتونستان دنیکمرغی ورځی په مناسبت دپښتو مشاعره سرته ورسېدله .
کابل راډیو ښاغلو اومحترموراغلیو پښتنو ته د زړه له کومی کورودانی وائی او یووار بیاددی نیکی ورځی په مناسبت خپلو ګرانو اودرنو پښتونستانی ورونو ته مبارکی وائی اوله لوی خدایه دوی ته ددوی په مشروعو آرزوګانو کښی بریالیتوب غواړی .

تقریظ او انتقاد

د کتابو برخه

ښکته او پورته په لرې او برې پښتو نخوا کښې اوس وار په وار په پښتو ژبې کښې علمي، تاریخي اقتصادي، او ادبي کتابونه ځائېږي او په دې ډول پښتو د خپل علمي کېدو په لاره کښې په مخه درومي په دې نژدې وختو کښې دوه مهم کتابونه له بېرون څخه را استول شوي او یو هم خپله پښتو ټولنې چاپ کړي دي. دا دي مونږ دلته په هر یوه خپل نظر ښکاره کوو

سیاسي نظریات

دا کتاب په (۱۶۶) مخونو کښې په برابره قطع د کندهار په دولتي مطبعې کښې چاپ شوي دي لیکونکي یې ښاغلي محمد نادر ایوبي د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي لیسانسه دي دا کتاب له (۴۷۰) ق م څخه تر (۶۷۹) م پورې یعنې د یونانې مشهور سقراط نه تر انګلیسي فیلسوف تاماس هابس پورې د لوېدېځي نړۍ د لرغونو پوهانو او فیلسوفانو سیاسي نظریات په پښتو کښې بیانوي له سر لیک نه ئې ښکارېږي چه دا کتاب لمړی د بېلو بېلو مقالو په ډول د کندهار په طلوع افغان ورځپاڼې کښې چاپ شوي دي نو ځکه فصلونه، بابونه او تقسیمات نه لرې او یوازې د تاریخي سېر په مراعات سره د عصر د پوهانو تر عنوان لاندې د هغوی نظریات لیکل شوي دي او د هر عصر عمومیات پکښې کله کله په لنډ ډول لېدل کیږي. د هر عنوان لاندې لیکنو کښې سعي شوي ده چه لیکوالو د سیاسي نظریاتو اساسي او مهم ټکي بیان شي او دا ښکاره شي چه د دولت د څرنګوالې او ساورنټۍ (مطلقه واکمنۍ) په باب کښې د دوی نظریات څنګه او په څه ډول دي د کتاب د نورو ښېګڼو په اړخ کښې یو دیا دوړ ټکي ډا دي چه ښاغلي ایوبي د موضوع په انتخاب کښې ابتګاو کړي او د لمړي ځل د پاره ئې په پښتو کښې د سیاسي نظریاتو په نامه کتاب لیکلي او په داسې غنیمت وخت کښې یې خپلو وطنو الو ته چاپ شوي وړاندې کړي چه له هر یوه سره یې د لوستلو تلوسه زیاته ده. مونږ په داسې حال کښې چه ښاغلي ایوبي ته تیریک وایو د مطالعې مینانو ته زیرې ورکوو که دا کتاب چه په پښتو کښې د موضوع له مخې ساري نه لري ولولې او فایده ترې اوچته کړي له بلې خوا هیله لرو چه د وهم ټوک ئې چه معاصر سیاسي نظریات یې مفردات دي زر تر زره چاپ شوي و وینو.

لودی پښتانه

دا کتاب ټول (٤٢٥) مخه دی دتېر کال په وروستۍ میاشت کښې دپښتو ټولنې له خوا د کابل په دولتي مطبعې کښې چاپ شوی دی! مولف ئې ښاغلی عبد الشکور رشاد دپښتو ټولنې معاون دې په دی کتاب کښې لودی پښتانه څېړل شوی او ددی تېر پاچایان او واکمن چه دهند په ابادی خاوری کښې یې دلویې او پاچایی کلونه او دورونه تېر کړی دی رابیانوی د کتاب لیکنی عنوان بست دی او دهر لودی واکمن ترنامه لاندی دهغه سوانح واکمنۍ او نور خصوصیات بیان شوی دی دمتن په ټولو لو او لیکلو کښې (٧٨) بېل بېل مأخذونه لیدل شوی او استفادی تری شوی دی د کتاب په هره برخه کښې دی ماخذونو ته اشاری شوی او مخونه ئې نبوول شوی دی په دی ډول ویلی شو چه دا مستند کتاب دی چه تر اوسه پوری دلودیانو په باب کښې په جلا ډول کښل شوی دی ددی کتاب تاریخی ارزښت په هلته زیات وای چه:

لمړی: دتېرولو دیانو دتاریخی حال را برسېره کولو په ترڅ کښې دهندی ټولنو خصوصیات ښکاره شوی وای او همدا راز دعصر او شاوخوا هېوادونو دعمومیاتو لنډیزور سره اضافه شوی وای ځکه چه په مجرد ډول سره بو تېر یا یوه ټولنه څېړل او له نورو جوامعو سره ئې اړیکی نه ښوول دیوه علمی اثر خاصه نه ده.

دوهم: دڅېړنې لاندی دټولنی او ښتنو او تغییراتو اساسی علتونه ښوول شوی وای او بوازی ئې معلولاتو ته نظر نه وای شوې ځکه چه تاریخی اثر په دی ډول د کېسی شکل نیسی او علمی ارزښت خپل بایلی او په پای کښې.

دریم: دمتن او مفرداتو ترتیب طبقه بندی لرلای او بابونه او فصلونه په بېل بېل ډول پکښې وای.

مونږ دی اثر ته چه دمولف د کلونو دڅېړنی او زیار محصول دی دقدر په سترګه کورو او ښاغلی رشاد ته کورودانې وایو چه دپښتنو دیوه درانده تېر حال یې څېړلی دی، دا اثر دتاریخ هرزده کوونکې ته چه غواړی په عمومی صورت دپښتنو او په خصوصی ډول دلودیانو تېر حال باندی ځان پوه کړی ښه مرسته کوی،

لنډی

دا کتاب (١٧٦) مخه دی او په عسکری مطبعی کښې له چاپ نه وتی دی دلنډیو غوره

کوونکی او چاڼ کوونکي ښاغلی عبدالرؤف، بینواد پښتونخوا باذوق اومشهور لیکوال دی ددې کتاب دصحافت اوښکلا په باب کښی باید دومره ووایم چه تراوسه دلته داسی ښکلی کتاب نه دی چاپ شوی او یا که چاپ شوی وی مانه دی، لیدلی هره لنډۍ پاړسو او انګریزی ترجمې لری اودځینو خوږو لنډیوله روحیی سره مم ښکلی او له کیف نه ډکې رنګه تابلو ګانی لری دهمدغو رنګه تابلو ګانو جوړول اوچاپول دی چه دا کتاب ئې سراسر له مزی اوخوند نه ډک کړی دی. هرڅوک چه ئی وینې خامخا به پری اثر کوی ذوق به ئې سکونډې اورقیق او لطیف حسیات به یی تحریکوی. زه په زغرده وایم چه دا کتاب دپښتنې کلچر دیوه خوند ناک اړخ به ترسیم کښی، یو ډیر مؤثر معرف دی خو که له یوی خوا دانګریزی او پاړسی په ترجمو کښی، دلنډیو اصلی کیف اوخوند افاده شوی وای اوله بلې خوا څرنګه چه لنډۍ یوازې دپښتنو دحسیاتو اوافکارو ممثلی دی اوپه دی حساب تابلو ګانی یې دپښتنو مینانو واې اویوازې یی ددوی کلچر ښوولای نو دکتاب ارزښت اوخوند به یی لاهم پسی زیاب کړی وای په هر حال دا کتاب دپښتنو دکلچر په معرفی کښی په تېره بیا باندینو ته یو مهم اثر ګڼل کېږی. مونږ ښاغلی بینوا ته کورودانی وایو اوورڅخه هیله لرو چه داسلسله لکه څرنګه چه ده پخپله د کتاب په سرلیک کښې ورته اشاره کړی ده پسې اوږده کړی او په نورو کښی پور ته تکی په نظر کښی ونیسی.

(اداره)

د پوهې تېرو ته

پښتو ټولنې په تېرو ۵ واسو میاشتو کښې یعنې د ۱۳۲۶ کال له سنبلې څخه د سږ کال تر سنبلې پورې په لاندې ډول علمي، تاریخي، ادبي، او افسانوي کتابونه چاپ کړي او د علم مینانونه ئې آماده کړي دي کیدای شي چه دلوستلو شوقمن ښې په ارزانه بیه له پښتو ټولنې څخه وپلوري او خپله علمي پانګه پرې زیاته کړي.

شمېره	د کتاب نوم	لیکونکی یا ژباړونکی	بیه
۱	پښتني دودونه	د ښاغلو ننګرهاري؛ اتمان ثابت او واسعي لیکنه	۲۲ روپۍ
۲	غوره نثرونه	د ښاغلي الفت لیکنه	۱۲ روپۍ
۳	هغه وو یل	د جبران خلیل لیکنه د ښاغلي سیفي ترجمه	۱۲ روپۍ
٤	افغان قاموس (دریم ټوک)	د ښاغلي افغاني نویس لیکنه	٤۲ روپۍ
۵	لودی پښتانه	د ښاغلي قندهاري ښاد لیکنه	۳۷ روپۍ
٦	کلمه داره روپۍ	د ښاغلي بژواك لیکنه	۱۱ روپۍ
۷	منتخب شعرونه	د ښاغلي مجروح اثر	۸ روپۍ
۸	پښتو کتابونه	د ښاغلي ویش لیکنه	۰ ۰
۹	د انسان بدن	د ښاغلي سیفي ترجمه	۱۰ روپۍ
۱۰	ودموال	د ښاغلي اتمان ترجمه	۱۳ روپۍ
۱۱	د ښنګ مسافري	د ښاغلي نورمحمد تره کي لیکنه	۱۰ روپۍ
۱۲	آواز	د ښاغلي تېزي ترجمه	۰ ۰

JAN 2 0
1959

«دولتی مطبعه»